ليکونکی: ترو پوبليکا(True Publica) .

منبع اود خپرېدو نيټه : ګلوبال ريسرچ « 18-03-2018» .

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .

-------------------------------------------------------------

# د سوريي بغاوت کونکي شورشيا ن د اعصا بو مسموم کونکی سارين ګازچي دبريتانيا دحکومت له خوا پرهغو پلورل شوی پکا راچولي دي

Syrian ‘Rebels’ used Sarin nerve Gas sold by Britain



د بريتا نيا حکومت لکه د نړي په سراسر کي د نورو په څير د نړي د لمړي جګړی دوخت څخه وروسته دکيمياوی سلاحګانو په جوړونی باندي پيل وکړ اوبيا په خانګړي بنبی سره دانګلستان په پورت ډون (Porton Down) کی ددی ډول کيميا وی سلاحګا نو توليد ته پراختيا او دوام ورکړ. په هرصورت دنورو په پرتله دانګلستان محا فظه کار دولت سره له هغه چي ددي وژونکي کيمياوی سلاح پلورل دبين المللی منل شوی قوانينو له مخی منع شوی اما بريتا نيا د سوريي په جګړه کی دونډی اخيستو په بنياد بيا هم دغه وژونکي يا داعصابو مسموم کونکي زهرناک ګازدسوريي پر ياغيا نو باندی وپلورل کوم چي بيا د سوريي دغه ياغيان دغه وژونکي ګا ز دخپل مخا لفينو په له مينځه وړلو کی وکارول د انګلستان د سوداګری وزارت دخپل نوی مهارتونو او دنوښتونو په لړ کی لس مياشتي وروسته دسوريي دجنګ له پيل څخه دانګلستان د حکومت داجا زی په تر لاسه کولو سره دغه مسموم کونکي ګازدسوريي پر ياغيانو باندی وپلورل يا داچی دغه ګاز دسوريي دياغيانو په لاس کی ولويدل.

هغه دوه مخي رياکارنه اوشرمونکی چلند چی دبريتانيا داوسنی سياستوالو سره موجود

دی یعنی هغه سیاست چې دانګلیس د با ند نی بدخواها نه سیا ست څخه ورته په میراث رسید لی دی د حجا لتی ځای دی چې دوی دبین المللی چارو څخه هم څه شی زده نکړل لکه هغسی چې دانګلیس پخوانی لمړی وزیر **تونی بیلر** (Toni Bielar) د ړندو په شا ن په عراق کی د امریکی دمتحده ایالاتوسیا ست دنبا ل اوخپله کړ چې دهمدی ناروا سیاست په لړکي تقریباً یومیلیون عراقی خلکو خپل ژوند د لاسه ورکړ او تر دری میلون نور عراقیان د مجبوریت له مخی نورو هیوادونو ته مها جرشو کوم چې دا اجباری مهاجرتونه لا تراوسه دوام لری ، دیادونی بل مهم مطلب داچې **دوید کامرون**(David Cameron) هم لکه د **تونی بیلیر** په شان په لیبی کی هم همداسی وکړ چې دهغه په ترڅ کې زیا ت خلکو خپل ژوند دلاسه ورکړ اوپه سلونو ززرولیبیان نورو هیوادونو ته مها جر شو او لیبا دکا نګسترانو او د تروریستا نو په لاس کی ولوید ل کوم چې نن په **هغه** هیواد کی دغه کا نګستران اوتروریستا ن د غلاما نو اود برد ګا نو په خرڅلا با ندی مصروف دی او په ملینونو مهاجران یی د مد یترانی په لاره با ندی نورو هیوادونو ته دمهاجر په بڼه لیږي چی زیات مهاجران کوم چی کوم اروپایی هیواد ته ورسیږی په بحر کی ډوبیږی اودهغو مړی دکبانو خوراک کیږي.

د ا نګلستا ن لمړی وزیره **تریزیمی** وغوښتله چي کټ مټ او دقیقاً له دروغو څخه ډ ک لاره له همغه غلونکي او تیر ایستونکی نمایشنامی څخه دنبال اوخپله کړي چی دانګلستان مخکینیو لمړی وزیرانو خپله کړي وه او هغه دا چی **تریزمی** د نبوچیک (Novichok) په ګاز سره د**سرګیی اسکریپال** (Sergi Skripal) دمسموم کیدو داستان یی په جعلی بڼی سره جوړ کړ کوم چي په شد ت سره اوس دغه داستان خپل اعتبا راو ریښتنوب دلاسه ورکړی دي اوهغه داچی په سوریه کی د حملی څخه مخکی نه دملل متحد له خوا اونه هم د بریتانیا دپارلمان له خوا پرروسی با ندی تور نه دی لګول شوی چی روسیه د **سرګی اسکریپال** په مسموم کولو باندی تورن کړی - حال داچي دانګلستان دپارلمان (۷۸) سلنه استاذی په سوریه با ندی د **تریزیمی** دهوای اعتصا ب په مخا لفت کی نه غوښتل چي پر سوریی با ندی د مزایلو واروګذار شی .

په هرصورت پر سوریی با ندی دامریکی ، انګلستا ن اود فر نسی د دولتونواودهغو د نظامی قوتونو پواسطه سره په دی پلمه چي سوریه پرخپلو مخا لفینو با ندی کیمیاوی سلاحګانی استعمال کړی دی ،د مزایلو یا در راکټونه حملی تر سره شو کوم چي اوس په بشپړه بڼی سره تاید شوی چي دسوریی پواسطه سره دکیمیا وی سلاحګا نی دبکا ر وړلو خبره یوه دسیسه اود غربی جنګ طلبو حلقو جعل او ساختګی کار اویا کړنه وه ، لکه چي په دی اړه رابرت فسک (Robert Fisk) پرون په مستقیم بڼی سره مونږ ته دیو راپورپه ترڅ کي یاده کړچي دسوریی په دوماه (Douma)کی اصلاً کیمیاوی سلاحګانی بکار وړل شوی نه دي بلکه دا یو توطیه او یو جعلی خبره او تبلیغات دی چی دغربیانو

پواسطه سره د سوريي ددولت د بدنامه کولو څخه بل شی نه دي . **هغه وويل :**
«مونږ په کال (۲۰۱۴) کی د اوباما دزمامداری په وخت کي پوره تاييدی ډاډ ترلاسه کړچی دبريتانيا پواسطه سره جوړ شوی يا توليد شوی داعصابو دمسموميت ګاز (سارين) دسوريی د زيرمو اود زراد خانو څخه ايسل شوی او دسوری څخه دباندی ليږدول شوی يعنی چی نوموړی سلاحګا نی اوس په سوريه کی وجود نه لری داهغه څه دی چی دامريکی دبا ند نيو چارو مخکينی وزير **جان کيری** په کا ل (۲۰۱۴) د خبرياﻻنو د پولړ پوښتنو په ځواب کی څرګند کړ اوويل چی مونږ سل په سله بريا لی شو چی کيمياوی سلاحګا نی له سوريی څخه وويستل شی – اوداځکه چي پر سوريي با ندی له پخوا تور لګول شوی وه چی سوريه د (سارين ) ګا ز د خپل مخا لفينو په وړاندي پکا ر وړی چی حتي همدغه مسله ددی سبب شو چی د ا مريکی نظا می قوتونه پر سوريي باندی په کال (۲۰۱۳) راکټی واروګذار وکړ -نو اوس د ټولو موثقو منابعو په قول سره اصلاً په سوريه کي کيمياوی سلاحګا نی وجود نه لری اونه هم د سوريي په زرادخا نو اود بيوګا نو کی تر سترګو کيږی .»

## لنډيز:

مونږ کره او پريکړنـي شواهد په ﻻس کی لرو چي د بريتا نيا پواسطه سره «سارين» د اعصا بود مسموم کونکی ګازتوليد اوبيا د سوري پر يا غيا نو با ندی د هغه خرڅلاو دسوريي د جګړي په لمړی کا ل کي ترسره شوی دي .

همدارنګه بشپړشواهد وجود لری چی د (ISIS) يا دداعش ترحمايی ﻻندي تروريستا ن دجګړی په وخت کي دغه کيميا وی سلاحګا نی( داعصا بو مسموم کونکي ګاز) ددولتی جنګيا ليو په مقابل کي پکار وړلی دي کوم چی د ملګرو ملتونو له خوا هم پوره تا ييد شوی دی ( ﻻندی وګوری) کوم چی د « **اوبا ما** » د دولت د پا ره سره کړښه وه .

کامل او پوره شواهد وجود لری چي دسوريی ياغيان يا شورشيا ن ددولتی جنګيا ليو په وړاندی پخپلو حملو کي له (سارين ګاز) څخه هم استفاده کړی دی کوم چی دغه سپينا وی دامريکی د متحده اياﻻتو د با ندی چارو دوزارت له خوا هم تا ييد شوی دی (ﻻندي وګوري ).

همدارنګه مونږ پوره شواهد په ﻻس کي لرو چی هغه داعصابو زهرجن مواد کوم چی دانګلستان له خوا پر سوريی با ندی خرڅ شوی وه ددبيپلوماتيکی هڅی او اند په لړ کي دملګرو ملتونو ،متحده اياﻻتو ، انګليس اود روسيی داستاذو په حضور دسوريي ددولت په کامل رضا يت او موافقی سره له سوريي څخه د باندی وويستل شو او کوم موثق منبع ته تحويل ورکړ شوی دی.

د بلی خواڅخه هم پولړ راپوړونه اوشواهد لرو چي د سوريي په دوماه (Douma) کي کيمياوی سلاحګانی هسی چي دونالد ترومپ اودانګلستان لمړی وزيره تريزيمی ادعا

کوی قطعاً استعما ل شوی نه دي .

لکه د **تونی بلیر** اود **داوید کامرون** په شا ن **تریزمی** هم دحقیقت څخه پرته په درواغو سره دغه د سیسه جوړ او د خپل ګټی دترلاسه کولو د پاره په دغه جعلی عمل لاس پوری کړ کوم چی اوس دغه داستا ن له هر اړخه دخلکو په وړاندي بی اعتباره شوی دی .

***همدا سی چې تا سی د موضوع په هکبله زیا ت سپینا وي او شواهدو ته ضرورت لری نو کولای شی چی د اونی دمجلی دجولای د میا شتی (9) کا ل ( 2014) ګڼي سرمقا لی ته نظر واچوِي اوهلته دغه لاندی متن ولولی .***

* انګلیسی شرکتونه پر سوریي باندي کیمیا وی وسلی پیرود لی دي « بریتا نیا وی شرکتونه کوم چې داعصا بو د مسموم کولو « سا رین ګاز » تولید وی نو دغه ګا زیی د (۱۹۸۰) کا ل په لسیزه کي پرسوریي با ندی پیرودلی دی کوم چی د دغه د پیرودلی شوی ګاز مستند راپور نیوزنایت (Newsnight) لاس ته رسید لی دي .

* د «**سا رین ګا ز** » د سوریی په لمړی د ری کا لو داخلی جګړه کي تقریباً (۱۵۰۰) نفر یی وژلی دي چی د دی وژلو شو خلکو له جملی څخه (۴۲۶) تنه کوچنیان خپل ژوند دلاسه ورکړی دي .

په دي راپورکي بریتا نیا د «سارین» د ګا زدری اصلی جوړونکی اصلی مادی پیژند لی دی چی هغه مواد عبارت دی له (Trimethyl phosphat) ، (Dimethyl phosphat) او (Hexamine) څخه .

* د کیمیا وی سلاحګانو کا رپوها نو «سارین ګاز» یو له ډیرو شد ید وژونکي ګاز څخه منی چی انسا ن دهغه سره په مسموم کید و زر خپل زوند دلاسه ورکوي یعنی دغه ګاز په ټولنه کی که چیری استعمال شی دله ایزوژني کوی یعنی ددی سمی کاز یوډیر کوچنی مقداریی کولای شی چی د یر انسا نا ن په مرګ محکوم کړي لکه چی په سوریه کي خلک دهمدی ګا ز په تسمم سره خپل ژوند دلاسه ورکړل . همدارنګه په دي راپور کی راغلی دي چي ددی ګازسلونه ټنه دمشق ته راوړل شوی اوپرشورشیانو باندی پیرودل شوی دي همدارنګه په کال (۲۰۰۳) کي بریتانیا د سوریي د پاره برقی با د پکی هم ولیږدول کوم چي هغه هم **د اسد** د کیمیاوی اسلحی په مینځ کی یوه برخه تشکیلول دا پروګرام په ګوته کوي چي انګلیسا نو په همغه وخت کي پراعراق با ندي یرغل وکړاوپه سوریی باندي تورولګول چی سوریه پخپل زردادخانو کی کیمیاوی یا دکشتا ر جمعی سلاحګا نی زیرمه کړی دي .

واشنګټن ټایمز دمی میاشت (۶) کال (۲۰۱۳) پخپل ګڼه کی په ښکاره توګه ولیکل چي دسوریی شورشیانو پخپلو حملو کی دبشر الاسد درژیم دسپاهیانو پر ضد د «سارین ګاز» پکاروړلی دي کوم چی دملګروملتونو یو لوړ پوړي چاروا ک په کال (۲۰۱۳)

*کیی وویل : شواهد ښیی چي په سوریه کي قربانیانو دسارین ګاز له تسمم څخه خپل ژوند دلاسه ورکړی دي او هغه هم کله چی دسوریی یاغیانو دغه ګازد سوریی د جنګیالو په مقا بل کي پکا ر وړلی دي .*

**کارلا دل پونت** *(Carla del Ponte) دسوریی د تحقیقا تی په کمیسیون کی مستقل بین المللی غړی د سو یس تلویزیون د خبر یا ل سره په مرکه کي وویل : چی ډیر قوی بیهوده سو قصد یا شوم نیت وجود لرل چی لاتراوسه پوره ښکند شوی نه دی او هغه داچي داسی پلان وه چی* ***دبشرالاسد*** *ځواکونه د سارین ګاز په استعمال سره فلج کړی اویا په ډله ایز ښی سره هغوی د مینځه ویسی.*

*اما* ***کارلا دل پونت*** ***د «بی بی سی » خبریال سره په مرکه کي داسی وویل :( چي زه تر اوسه پوری کومه کره شواهد په لاس کی نه لرم چي دهغی له مخي دا سي حکم وکړم چي سوریه دخپل مخالفینو په وړاندي کیمیا وی سلاحګاني پکار وړلي وي .***

*د مشق په دي اواخرو کی دغربیا نو له خوا داسی پری تهمت لګول شوی دی چي دهغه قوتونه په جګړه کي کیمیا وی او یا د کشتار جمعی سلاحګانی څخه کار اخلي کوم چی د* ***با رک «اوباما»*** *داداری له خوا دسره کرښی په بڼه توصیف شوی دي . اما د* ***کارل دل پونت*** *څرګندونی ممکن چي د بین المللی حلقو په مرکزی نګرانی باندی بدله شوی وي .*

**کارل دل پونت** *په کال ( ۱۹۹۹ ) کی دملګرو ملتونو له طرفه د* ***یوګسلاوی*** *او د* ***روندا*** *دجنګی جنا یتو د څیړنی د قا ضی یا د مشره په توګه وګمارل شو – دسویس مخکینی څارنوال اودهغه هیواد لوی څارنوال دسویس تلویزیون یو خبری منبع ته داسی څرګند کړل ] زمونږ خبریالان دمنطقی په ګاونډی هیوادونو کي دقربانیانو دکورنی دعړوُ په روغتونو کی د ناروغا نو اود ډاکترانو سره خبری اتری او مرکی تر سره کړی او هغه راپور چی دهمدی مرکو د لاسته راوړنی څخه یادونه شوی دی مخکی هفته کی په نشر ورسید او راپوروښودل چی د کیمیاوی سلاحګانو داستعمال په اړه یو څه شک اوتردید وجود لری ، اما لا تر اوسه بلکل ثا بت شوی نه دی چی حتماً نوموړی سلاحګانی به په جګړه کی پکار وړل شوی وی ، امایوشمیر ناروغانوچي په نوموړی ګاز باندی مسموم شوی وه دهغه درملنه شوی دي .*

***دامریکی د متحده ایالاتو د لوړو پوړو مقا ما تو اعتراف له دی نه چی د سوریی یاغیا نو په جګړه کی کیمیا وی وسلی پکا ر وړلي دي.***

*د( داعش ) جګړه ماران ، دهییت تحریر شام اوځنی نورافراطی ډلی ټپلی هغه ګروپونه دی چي په سوریه کي روغتیایی آسانتیاوی ، دمینځه وړی چی دهغه په له مینځه وړلو سره په لسګونو ملکی خلکو خپل ژوند دلاسه ورکوی داهغه کسان دی چي په سوریه کی ځان وژنی ، تښتونی ، خفیفه او ثقیله وسیلی او کیمیاوی سلاحګانی پکاروړی اودسوریي به لویو ښارونو کی ستونزی مینځ ته راولي .*

همدارنګه دغه شورشیان دسوریی په لویو لارو ، په کنترولی ا و چک پا ینتونو، په دولتی عمارا تو ، دراکړی ورکړی په ساحو او دوکانونو په آزاد او خلاصه فضا کی بی نظمی رامینځته کوی لکه په د مشق ، الیپو دارا ، هومس ، ادیلب ،او د دایر الثور په ولایا تو کی دغه شورشیان همدارنګه امریکایی اتباع د سوریی له ګڼ ځا یونو څخه اختطا ف کوی اودا ځکه چي په سوریه کي امنیت نشته او د ا مریکی د متحده ایالاتو حکومت دخپل امریکایی اتباعو په ساتنه کی ډیر کم لاس رسی لری ( منبع = دامریکی دمتحده ایالاتو ستیت دیپارتمنت) .

د سپتمبر د میا شتي په وروستیو کی دامریکی دمتحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت دقونسلګری مسولینو د سوریي سفیر ته دامریکا نو درسمی سفرونو په اړه هغه مقام ته خبرداری ورکړ چي اوس دسوریي په شمال غرب کی شورشیانو پراخه فعالیت کوی او هغه داچي نه یوازې چي دغه منطقه ترخپل ولکي لاندی لری ،بلکه هلته دخپل مخالفینو د مینځه وړلو د پا ره کیمیا وی سلاحګا نی هم پکا ر وړي تر هغه ځا یه پوري چي دامریکی دخا رجه وزارت مسول کسا ن د شورشیا نو پواسطه سره خلکو ته د هغو د ګواښ له امله خبرداری ورکړ چي دغه شورشی ګروپونه عبا رت دی له هییت التحریر الشام ، نوردتاوتریخوالی او ډار اچونکی ګروپونه لکه دالقاعدی تر ولکی لاندی ،القاعدی سازمان پوري تړل او هم دداعش تروریستان کوم چی دوی تول د سوریي د ښارونو په مرکز کي د ځان وژنی ، سړی تښتونی د خفیفو اود ثقیلو وسلو استعما لول په شمول د کیمیا وی سلاحګا نی چي اوس تولو ته روښا نه شوی دي .

------------------------------------------ په درنا وی «۲۰۱۸-۰۴-۲۳»